# د افغانستان دموکراتیک جمهوریت

# لویه جرگه

# کابل ۱۳۶۴

## د لوی خدای په نامه

ورونو، خویندو، د افغانستان د خلکو محترمو نماینده گانو !
زموږ د آزاد، مستقل او واحد وطن او د افغانستان د زیارایستونکو انقلابی او قهرمانو خلکو په نوم!
د افغانستان د خلکو لویه جرگه، دغه ستره او پرتمینه تاریخی پیښه، د وطن د تاریخ په یوه حساسه انقلابی شیبه کی پیل کوو.
د جرگو عالی عنعنه زموږ د پلرونو او نیکونو د اتحاد غوره سنت او زموږ د شهیدانو او غازیانو ارزښتمند میراث دی. (دناستوخلکوپه پرله پسی دلاسونوپه تکهولو اوچک چکوسره) هر وخت چه د وطن د مرگ او ژوند سوال، استقلال، ملی حاکمیت، د ځمکی تمامیت، د شرف او ناموس، آزادی، د وطن افتخار او د افغانو خلکو ملی اتحاد د خارجی دښمنانو او داخلی خاینانو په مقابل کی مطرح شوی دی، هماغه وخت زموږ د واحد وطن د سره ورونو ملیتونو قومونو او قبایلو مشران، سپین ږیری او زیار او کار ځامن سره را ټول شوي او د تیري کوونکی استعمارگر دښمن په مقابل کي د وطن د حیثیت، شرف، آزادی او خپلواکی څخه دفاع کوي، د وطن د سرنوشت، سولی او امنیت په باره کي تصمیم نیولي دي.
نن تاریخ دغه لویه او درنه وظیفه ستاسی د وطن زیارایستوونکو ځامنو په وړاندی ستاسی مشرانو روحانیونو، سپین ږیرو او د افغانستان د خلکو د با اعتباره نماینده گانو مخ ته ددی انقلابی لویی جرگی مخ ته ایښی دی.
دښمن د وطن په پاکه خاوره تیری کړی او نا اعلان شوی جنگ یی پری تپلی دی. د ځینو مزدور او وطن ته خاینو عناصرو په اجیر کولو سره زموږ وطن ورانه وي، زموږ پلرونه، میندی، ورونه، خویندی او ماشومان وژنی او زموږ د خلکو د ژوند او کار سوله ایزه فضا خرابه وي او د افغانستان د خلکو د یووالی، برابری او برادری او نیکمرغی مانع گرځي او زموږ د هیواد د پرمختگ او سریع اجتماعی- اقتصادی ترقی او سمسورتیا مخه نیسی. په داسی شرایطو کي باید څه وکړو؟ څه وکړو؟ آیا چُپ او بی توپیره پاته شو؟ او بی

ننګی ومنو؟ او یا د خپلو ننګیالیو نیکونو په شان د مکار او متجاوز دښمن په مقابل کی را پاڅیږو (دناستوخلکوپه پرله پسی دلاسونوپه تکهولو اوچک چکوسره) او د لویشت لویشت خاوری، شرف، ناموس او د وطن له حیثیت نه دفاع وکړو؟ څه وکړو؟ او دا خپل ستم ځپلی افغانستان په آباد، سوکاله، پرمختللی او عزتمند وطن بدل کړو او رنځیدلی افغان خلک نیکمرغه کړو.
د وطن تاریخ او راتلونکی ځامن به هیڅکله په دی امر کې زموږ غفلت او سهل انګاری و نه بخښی. (دناستوخلکوپه پرله پسی دلاسونوپه تکهولو اوچک چکوسره)
پریږدي چه د باتورو، انقلابی او آزادو افغانانو اوچت ږغ او د توری شړنګ یو ځل بیا د دښمنانو زړونه وچوی. (دناستوخلکوپه پرله پسی دلاسونوپه تکهولو اوچک چکوسره)
پریږدي چه دښمنان و پوهیږی چه افغانان د خپلو پلرونو رسم او دود نه دی هیر کړي ./
پریږدي خارجی او داخلی دښمنان پوه شي چه زموږ د واحد وطن، مستقل افغانستان ټول اوسیدونکی ورونه خلک د سولی، واقعی آزادی، برادری او برابری، ترقی او نیکمرغی په خاطر لکه فولادی سوک، واحد او خلل نه منونکی اراده لری او پرمخ ځي. (دناستوخلکوپه پرله پسی دلاسونوپه تکهولو اوچک چکوسره)

* متن بیانیهء رفیق کارمل در لویه جرگه سال ۱۳۶۴ از روی نوار ویدیویی توسط عبدالقدیر «فضلی» نوشته، تهیه و ترتیب شده است.